لیکوال: دکتور لطیف یاد نیټه ۰۷-۱۲-۲۰۱۰

# په هندي جیلو نو کې دکړېدلو افغاني زندانیانو
## په حال ورحمیږئ!

دافغانستان دباندنیو چارو وزېر ښاغلي زلمي رسول!
د څه دپا سه دري لسیزې وشوې چې زموږ ولس دجګړې په اورو نو کې سوځي ۰ دجګړې په دغه ناورین کې مو هر څه وبا یلل۰ خلک مو دربدره شول او دېته اړ ایستل شول چې په پردیو هېوادو نو کې دمهاجرت تر خې شپې او ورځې تیرې کړي. دهمدې بد مر غې او راباندې تپل جګړې په نتیجه کې مو زیات شمېر هېوادوال پا کستان، اېران، هند، تا جیکستان، عربي هېوادون، اروپا، امریکې، استرالیا او دنړۍ نورو ګوټو نو ته لاړل او اوس به داسې یو هېواد نه وي چې هلته افغان کډوال نه وي۰
زه د دې مقالې لیکوال هم دهغو کډوالو له ډلې نه وم چې پوره دولس کلو نه مې په هندوستان کې دخپلې کورنۍ سره دمهاجرت او کډوالۍ ترخې شپې او ورځې تیرې کړي دي او د هغو کسانو په حال ښه پو هیږم چې دغو تر خو شپو او ورځو ته اوس هم دوام ورکوي۰
په دغه دېرش کلن ناورین کې زموږ هېواد وال په بهر نیو هیوادو نو کې ددولتونو او په تېره بیا دپو لیسو دډېر ناوړه چلند سره مخا مخ شوي دي ۰ کله یې دوېزو په تمدید کې دوی ته ستو نزې پیښې کړي دي او کله په یوه بانه او کله په بله بانه یې دوی ډېر ځورولي او کړولي دي او کله یې جیلو نو کې اچولي دي، چې له بده مر غه دوخت هیڅ یوه دولت او یاهم ددولت په استازیتوب یې افغاني سفارتو نو او قو نسلګر یو هم غم نه دی خوړلی او ددوی په وړاندې بې تفا وته پا تې شوي دي۰
دبهر نیو چاروښاغلی وزیر صاحب!
تاسو ته پته شته چې هندوستان یو له هغو هیوادونو دی چې زموږ ډېر شمېر هیوادوال یې په جیلونو کې پر اته دي، خو موږ یوه ورځ هم ونه لیدل چې په دهلي کې افغاني سفارت چې دخپلو ټولو اتباعو دحقوقو ذمه واري ورپه غاړه ده ددغو بیوزله بندي افغا نانو په حال ځان خبر کړي او زه پوره ډاډمن یم چې تر اوسه به لا افغاني سفارت په دې هم نه وي خبر چې موږ دهندو ستان په جیلونو کې څو مره بندیان لرو او دغه بند یان دهندوستان په کو مو جیلونو کې پر اته دي؟
تاسو ته به معلو مه وي چې دبد مرغې جګړې په نتیجه کې زموږ ډېر شمېر هیوادوال هندوستان ته کډوال شول چې په دغه موده کې به ځیني افغانان دبېلا بیلو سر غړونو په نتیجه کې بندیان شوي وي، خو دا ددې مانا نلري چې افغاني سفارت دې دخپلو اتباعو له حاله ځان خبر نکړي او بې تفاوته پا تې شي۰
تا سو ته پته شته چې هندو ستان یو لوی هېواد دی او ډېر ایالتو نه لري، خو زموږ ډېر شمېر هغه هېوادوال چې په دغه هېواد کې بند یان دي اوحتی دخپل اصلي بند دمودو نه یې هم لس پنځلس کلونه زیات پرې تېر شوي دي، خو څوک یې نه را خو شي کوي داځکه چې دولت مو کمزوری دی او افغاني سفا رتونه او کو نسلګرۍ هم بې پروادي، دخپلو ځانونو غم ورسره دی او دخپلو اتباعو غم ورسره نشته۰ دغه بند یان ددهلي په تیهار جیل، دراجستهان دایالت په بیکانیر، جودهپور، جیپور، داتهراپرادیش دایالت په نوي او زاړه سینټرل جیلونو، بمبئي، کو لکته، دکشمېر دایالت دمرکز په سرینګر او دهیماچل پرادیش دایالت په مر کزسیمله او دپنجاب دامر تسر دښار په جیلو نو کې شپې او ورځې تېروي۰ دوی دافغانستان دبېلا بېلو ولا یتو نو بغلان، لو ګر، میدان وردګ، پکتیا، ننګر هار، بامیان، کند هار او هرات ولا یتونو پورې اړه لري ۰
ددغو زندانیانو په اړوند دولسمشر ددفتر له خوا هم د ۱۳۸۷ کال دوري دمیا شتي د۱۹ نیټې ۱٦۷ نمبر لیک هم دبا ندنیو چارو وزارت ته استول شوی و او همداراز دافغانستان دملي شورا دنړیوالو چارو کمیسیون هم یو لیک دباند نیو چارو وزارت ته استولی، خو تر او سه پورې په دې اړوند هیڅ هم نه دي شوي ۰
د افغانستان دباند نیو چارو دښاغلي وزیر صاحب نه هیله من یو چې په دې بر خه کې په جدي اقد اماتو لاس پورې کړي او په دې بر خه کې ددوی پام لا ند نیو ټکو ته اړوم:
۱ ـ دافغا نستان دبهرنیو چارو وزارت دې په ډهلي کې دخپل افغاني سفارت له سفیر ښاغلي ډاکټرننګیالي طرزي سره په دې برخه کې اړیکې ونیسي او په ټولو هندي جیلونو کې دې دافغاني بند یانو یو لست او ددوی د بند په اړوند معلومات را غو نډ کړي۰
۲ ـ دافغانستان دباندنیو چارو وزارت دې په کابل کې دهند دسفارت سره په دې بر خه کې خپل خپګان او اند یښنه څر ګنده کړي او د دیپلو ماتیکو چینلونو له لارې دې مو ضو ع ځان ته رو ښا نه کړي۰


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۳- هغه افغانان چې د بند موده یې لا دمخه پوره شوې ده باید دهغو په خوشي کولو کې جدي هڅې وکړي او دخو شي شوو بندیانو لپاره دې افغا نستان ته دتګ ټو لې اسا نتیاوې بر ابرې کړي۰
٤ - دافغا نستان دبهرنیو چاروزارت نه یوازې د هندوستان په جیلونو کې دخپلو بند یانو له حاله ځان خبر کړي، بلکې په ګاونډي هېوادونو پاکستان، اېران او تاجیکستان کې هم دافغاني زندانیانو تردې بد تره او ناوړه حالت دی۰
هیله ده چې دبا ندنیو چار وزارت دخپلو دغو بندیانو دخوشي کولو او ددوی د ناوړه حالت نه دځان دخبر ولو په برخه کې کوټلي او جدي ګامونه پورته کړي، ځکه په بهرنیو هېوادونو کې دافغاني اتباعو ساتنه ددوی دنده او مکلفیت دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ